## پلوشه

که ٕ شرنګ دی که ٕ رنګ دی
ټول راز و نیاز دی
که ٕ ښائست که ٕ مستي ده
یو ناز یو انداز دی
که ٕ حسن که ٕ نور دی
یو  سپین سپین بخری
که ٕ ګل ، که ٕ یاسمین دی
یو سوز او یو  ساز دی



شاعر:اروابناد غني خان

ترتیب کوونکی: انجنیر عبدالقادرمسعود


# پلوشه

که ٕ شرنګ دی که ٕ رنګ دی

ټول راز و نیاز دی

که ٕ ښائست که ٕ مستي ده

یو ناز یو انداز دی

که ٕ حسن که ٕ نور دی

یو  سپین سپین بخری

که ٕ ګل ، که ٕ یاسمین دی

یو سوز او یو  ساز دی

شاعر:اروابښاد غني خان

ترتیب کوونکی: انجنیر عبدالقادرمسعود




# پلوشه

مړاوي سترګې کړه راپورته سترګو ته زما دلبرې

خانده وخانده مسکۍ شه په رښتیا دلبرې

راشه خوا کښې زما کښېنه سر زما په سینه کېږده

د مستۍ په خوب اوده شه پرېږده دا دنیا دلبرې

دا غمونه نهٔ خلاسیږي چې څو ژوند نهٔ وي خلاص شوی

څه چې پټ ترې یو ساعت شو د یو بل په خوا دلبرې

شاعر:اروابښاد غني خان

ترتیب کوونکی: انجنیر عبدالقادرمسعود